رحمت شاه سایل

ګـل مې غـوښتے ۋ اور اور ژونـدون دې راکۀ
سـوے لـوے اور و سـکـور ژونـدون دې راکۀ

اے زمـــا د میـــنې درده لیـــونیـــــه
څــه رونـد کـوڼ څــه کـرې کورژون دې راکۀ

اے زمـــا د خیـــال جـوتې جـوتې سپـرلیـه
څــه خپې ابـل څــه سـرتور ژوندون دې راکۀ

ډیـوې تـول عـمـر مې بلې کړې پــه ویـنـو
څـومـره شـومه وے شمکور ژوندون دې راکۀ

څــه دې تګـے تګـے مړاوے مړاوے پــرېښوم
څــه پــه خپل ډوبډر نسکور ژوندون دې راکۀ

خپـل مـئیـن زړۀ تـه دې ډیـر کـچه پیکه کړم
د تـول عـمـــر د پېـغـور ژونـدون دې راکۀ

پـــه لیـکـلـو کـاغـذونو کښې اودۀ شـم
خدایــه څـنګــه د غـمخوار ژوندون دې راکۀ

ګیـلــه نۀ کـوۀمــه بـختــه خـو در زار شـم
څـومـره شـوخ ۋم څومره سپور ژوندون دې راکۀ

لېـونـــے کړم د ســـرونـــو ســوداګـــانـــو
پېښـــور ۋم د لاهـــور ژونـــدون دې راکۀ

غـــریبـي وه خــو زمـــا د تــخـلیـق نـــازه
څـنګــه ګـل ګـل او سمسور ژوندون دې راکۀ

هــر سړے مـنـکـر نـکیـر شۀ جـواب غـواړي
دا د کـــور او کۀ د ګـــور ژونـــدون دې راکۀ

زورولـــے یـــمـــــه رنګ رنګ زورورو
څـــه د زغـــم او څــه د زور ژونـدون دې راکۀ

شـــور خـــو اورمـــه خـو چرتــه ئې شعـوره
دا څــه شـر شـر او شور شور ژوندون دې راکۀ

پــه خپل وران وطن کښې هم سپرلے یم
د جـــانـــان د ستـــرګـو تـور وطـن دې راکۀ

چې بــه نـور پــه کـومـو کـومـو کوڅو ګرځم
خدایــه څــه پــه وطن خور ژوندون دې راکۀ

هــر څـوک څـان راپـکښې ګوري آئینـه یم
د ,,نظرُل،، کۀ د ,,ټیګور،، ژوندون دې راکۀ

ګـمـــنـــامـۍ مې سرلـوړي راتیـتــه نۀ کړه
د ایـــلـــم کۀ د کیـــمـــور ژونـــدون دې راکۀ

مـــا قـــابـــو ۋ لاس د خپـــل ژونـده اخستـے
د ســـایـــل ســـنـدرې نـور ژونـدون دې راکۀ

نورین امان شمع

محبتونه د وصال لېونتوبونه غواړي
لېونتوبونه سحرونه،ماښامونه غواړي

ځینې خوبونه لیدل داسې بې معنې هم نهٔ وي
ځینې خوبونه لېونې وي تعبیرونه غواړي

چې سپرلے نهٔ راځي ګلونه به د کومې راوړم
زما ګلاب مانه د ګلو امیلونه غواړي

زما او ستا د زړونو زمکې بارانې زمکې دي
بارانې زمکې چې سوکړه شي بارانونه غواړي

انسان د مینې نه پېدا دے د انسانه مینه
ځینې سوالونه چې پېدا شي جوابونه غواړي

ما مې د فن نه فن زما نه زده کړهٔ دا خبره
فنونه هم د الفتونو مکتبونه غواړي

زمونږه تندې د هجران د زمانو تندې دي
دا به په لپو باندې مړې نهٔ شي سیندونه غواړي

مینې په مړاؤ زړونو مړاوې شي او مړې شي آخر
مینې خو الوزې پرواز له آسمانونه غواړي

زهٔ په تمامه شپه لمبې وکړم او شمع به شم
خو زما روح به ستا د روح نه ټکورونه غواړي

دنیا یوسفزے

په پښتنو باندې قسم دے چې وبا راځي
د کلي ټول ماشومان پټ کړئ ترې بلا راځي

دروغ دروغ وي خو د زړونو مانۍ ونړوي
دروغو کلے وي وران کړے چې رښتیا راځي

هغه وطن مې خدایه خلق په لمبو سوزوي
چې کوم وطن ته فرښتې په بسم الله راځي

تهٔ خو رحیم ئې ربه تهٔ خو قبلوې سوالونه
ستا د درباره خلق ولې بېنوا راځي

هسې نه مړه ئې کړې تیرو کښې به ژوندون تېروې
د ژوند ډېوه دې پټه وساته هوا راځي

د محبت دنیا د کلي په زور نهٔ شي کېدے
چې د زړهٔ کور ته څوک راځي نو په رضا راځي

په تنهائۍ کښې مې ژوند تېر کړو ما را وانهٔ خستو
چې د دنیا تصویر ته ګورمه ژړا راځي